مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۲/۰۱/۳۱

# لویه تلوسه

## دیرشمه برخه

## د اوبو بین المللی قوانین
## دریم څپرکی

### د آمو سیند اوبو په لیږدونه کې مهمه سناریو

اصولي توګه شوني ده د آمو سیند په تاسیساتو کي یا د آمو دریا د یوي برخي اوبو په رانیولو کي پانګونه وکړو، خو د اوبو په لیږدونه اقدام ونکړو. د اوبو دغه رالیږدونه پرېږدو هغه مهال ته چي رښتیني توګه د اوبو له تنګسي او پریشانی سره مخامخ شو. په حقیقت کي وغواړو له دغي پانګوني سود ترلاسه کړو. په اوبو او د اوبو په تاسیساتو کي پانګونه به لکه د نورو بهرنیو پانګونو په څیر ګټوره وي.

> وړاندیز دا دَی چي په ټولو ځایونو کي، هر چېرته چي امنیت شته په اوبیزو تاسیساتو کي پانګونه وکړو. لکه څنګه چي دولتونه او یا لویی څو ملیتي/ هیوادیزه کمپنی د غازو، سرپو، قلعي سرو زرو او الماسو ، په کانونو کي پانګونه کوي. په نه چندان لیري راتلونکي کي په اوبو او اوبیزو تاسیساتو کي پانګونه به ډېره ګټوره پانګونه وي. اوبو او اوبیزو تاسیساتو کي پانګونه به د قدرت سرچینه وي. نو بایده ده په قراردادونو کي ولیدل شي کومه ورځ چي وغواړو د آمو سیند اوبه یا نوري اوبه چي پیرو یې.ولیږدوو ، اجازه ولرو.

هماغوره چي فني او اقتصادي پلوه د آمو دریا د اوبو مسئلي حل ستونځمنه ده د هغوی د دیپلماتیکو مسئلو هواری هم ستونځمن کار دَی. خو په یو شل کلن لورلید کي د افغانستان د غرب او د ایران د ختیځ پراختیا په ځانګړي ډول د مشهد د اوبو د مسئلی هوارول د آمو سیند اوبو ته لاسرسی دَی. دغه کار د ترکمنستان همکاري غواړي. څکه چي ترکمنستان له یوی خوا د قره قوم سراسري کانال له لاري د آمو سیند له اوبو ښخه ګټه اخلي، ترکمنستان په کلنی توګه د دي کانال ۲۲ ملیارده اوبه ترلاسه کوي. له بل لوري که اوبه د هریرود له لارې ولیږدول شي او پروژه عملي شي ترکمنستان د هریرود او دوستی بند له لارې کولای شي زیاتي اوبه وغواړي، نو له دي امله پروژې په اړه د ترکمنستان هوکړه یا مخالفت یوه مهمه مسئله دی .

د آمو دریا د اوبو یوه برخه کیدَی شي د چین هیواد د پښو پل رامنځ ته کړي. څکه چي چین هم تاجکستان او قرغزستان څخه د اوبو یو پیرودونکی متقاضي دی. بالاخره د جیحون یا آمو سیند یا د هغي رودخاني اوبه چي زمونږ په زړو داستانونو کي د آرش کمانګیر په غشي سره د ایران او توران طبیعی پوله ټاکل شوی ده، په راتلونکي کي د ایران ختیځ په پراختیا او ودانولو کي ځانګړي ډول د مشهد ښار په ټیکاو کي مهم نقش ولري. د آمو دریا په اوبو سره د افغانستان لویدیز کولای شي پراختیا ومومي. سوچ کوم په راتلونکو ۵۰ کلونو کي د آمو دریا اوبه حتی هلمند ته هم راولیږدول شي. البته دا په هغه صورت کي شوني دي چي منځنی آسیا وکړای شي د خپلو اوبو کسر سایبیریا څخه د اوبو په رالیږدولو سره جبران کړي. او د آمو دریا اوبه پدي توګه بدایه او ځواکمني شي. مونږ به په راتلونکو کلونو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کي مجبور وو آمو سیند ته د اُب سیند او د هغه مهمي څانګي ایرتیش د اوبو په رالیږدونه کي برخه واخلو. څو وکړای شو د آمو سیند اوبه د زابل او زاهدانو د ستونځو هوارولو لپاره وکاروو. په نه چندان لیږي راتلونکي کي به هم د هریرود او هیرمند اوبه د افغانستان په د ننه کي ولګول شي. نو بایده ده چي دغو سیندونو ته اوبه راولیږدول شي څو اوبه ایران ته را ورسیږي. که پام کي وي چي د آمو دریا او سیر دریا اوبه د هلمند او هریرود مرستندوی شي نو بیا کومي اوبه بایده دي د سیر دریا او آمو دریا مرستي ته راودانګي؟ ښکاره ده چي هغه اوبه، د سایبریا د لویو سیندونو اوبه دي.

**د ولګا، اُب، ایرتیش او د روسېي د سایبریا د نورو سیندونو حوضي هیوادونو سره ډېپلماسي:**

**ولګا سیند:**

ولګا سیند د اوږدوالي، د تشېدو د کچي او د اوبو کاریدني او توېېدو حوضي له نظره د اروپا ډېر لوی سیند دَی. چي خزر بحیري پوري تړلي حوزي سره تړاو لري. ولګا سیند د ولدای غونډیو له سیمي څخه چي د مسکو په شمال لویدیز کي د سمندر له سطحي ۲۲۲ متره لوړوالی لري او د سن پترز بورګ سهیل ختیځ له ۳۲۰ کیلومتری څخه پیلیږي او سهیل خوا ته له کږېدو او انحراف وروسته په اَستراخان سیمه کي چي له سمندر تل څخه ۲۸ متره لوړوالی لري خزر بحیری ته تویږي. د ولګا لوی سیند په استراخان کي په ثانیه کي ۸۰۶۰ مترمکعب په منځنی پیړوالي/ دب سره او د ۱۵۰ کیلو مترو څخه په زیات پلنوالی دلتا سره په یوازی توګه د مازندران حوضي د نورو سیندونو څو برابره اوبه دغي بحیری ته واردوي. ولګا کلنی توګه شاوخوا ۲۵۰ کیلومترمکعب یاني آمو سیندڅخه ۶/۲ واره زیاتي او کارون رود څخه ۲۷ برابره زیاتي او کارده رود ( دمشهد په شمال کي) څخه ۸۰۰۰ واره زیاتي اوبه لري. د خوړو اوبو دغه لویه سرچینه کولای شي په اضطراری او بیړني حالت کي د ایران د شمال ختیځ او حتی د تهران د اوبو د لږوالي او تَندي د رفع کیدو یوه حلاره واوسي.

البته ولګا پخپله ځیني ستونځي لري. د ولګا د سمون او جوړولو طرحه چي له ۱۹۳۰ میلادي پیل شوي وه په ۱۹۸۳ کال کي بشپړ شوه. د دغي طرحي په سر ته رسیدو سره، ولګا د روسېي د ګټوري خاوري په زړه کي د انرژی په سرچیني او هم د ۵ دریابونو په سیستم کي د زیات حجم بیړی ځلوني په ملاتیر بدل شو. او ولګا د ښارو ځمکو شېرازولو لپاره د اوبو سرچینه شوه. د کرهني له ۳۰ میلیونو هکتاره زیاته ځمکه د دغه سیند په اوبو کرل کیږی(پاسکال مارشال، ۱۳۶۷ ) .




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ




هغه مهال چې د ایران د وګړو شمیر ۹۰ تر ۱۱۰ ملیونو پورې لوړ شي. د ایران ختیځ او شمال ختیځ به، په ټولو ستندردونو د خپلو ټولو ممکنو اوبو په کارولو او آمو دریا اوبوڅخه په ګټې اخیستو سره بیا هم د اوبو له لږوالي سره مخامخ شي. په هغه وخت کې یا باید د اوبو سپېڅلی تیکنالوژي هومره پرمختګ کړی وي چې وکړای شو مازندران سمندرګي څخه په کافی اندازه خوړې او ارزانی اوبه تولید او هیواد ته د ننه یې راولیږدوو یا باید د اوبو د نویو سرچینو په لټه کې واوسو او یا همدواړه کارونه وکړو. البته تر ټولو ښه کار دا دی چې د جمعیت کنټرولو سیاستونه او د اوبو غوښتنې راټیټولو سیاستونه هم تعقیب کړو. ولې بی ډبه او بیځایه خپل جمعیت زیات کړو او بیا د اوبو، ډوډی، ښوونځي، ترافیکی چاپیریالیز ژوند ککړتیاو، د اعتیاد او بی وځلی حلالرو په لټون کې لګیا شو؟ مګر اوسني جمعیت لپاره هر څه د ستندرد په برید کې دي چې لا مو هم د جمعیت د زیاتولو شا نیولې ده؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په هر صورت کې وراندیز کیږي. ولګا څخه د اوبو ترلاسه کولو پروژه او د خزر د ختیځې څنډې له لارې اوسنی ګلستان ولایت شمال ته او له هغه ځایه هیواد ته د ننه د هغوی رالیږدول پې روسیې او د مسیر له نورو هیوادونو سره مذاکرې لاندې ونیول شي. د ځینو په باور دغه پروژه ډېره خیالي ښکاري خو همدا لرلیدونه دي چې د هیوادونو ملي امنیت او د هغوی ځواکمني غښتلي او ټیکاومنه کوي. مونږ باید له همدې مهال روسیې، قزاقستان، ترکمنستان سره د دغه کار لپاره پراخه ډېپلماسي ولرو. همدې ترڅ کې له ځینو اړخونو په تیره بیا توپوګرافي نظره له ولګا څخه ګلستان ولایت ته د اوبو لیږدونه افغانستان له لارې ایران ته د آمو سیند د اوبو له را لیږدوني اسانه ده .

ښکاره ده چې ایران پر لور د ولګا اوبو لیږدوني له پروژ څخه به ایران پرتله قزاقستان او ترکمنستان له هغې زیاته ګټه واخلي. خو پدې پروژه کې پانګونې ته د دغو دواړو هیوادونو هڅونه کولای شي د کرهنې او څښاک د اوبو په برخه کې هم د هغوی د اوبو کموالی جبران کړي او هم په زرګونه هکتاره ځمکه اوبو او کرکیلې لاندې راولي او هم زمونږ ځینې ستونزې هوارې کړي. پدې پروژه کې پانګونه له ټولو لوړو لګښتونو سره سره راتلونکې لپاره ګټوره او لازمه ښکاري.

ایران ته د ولګا اوبو رسونه پمپولو ته اړتیا لري. لدې امله دغه اوبه به اقتصادي پلوه کرکیلې لپاره د منلو وړ نه وي. خو دغه اوبه کولای شي د څښاک او صنعت لپاره د کاریدو وړ وي. قزاقستان او ترکمنستان ته د والګا اوبو لیږدولو په پروژه کې په ګډون سره کولای شو د دغو هیوادونو د کرهنې په پراختیا کې هم ګډون وکړو. قزاقستان او ترکمنستان کې په دغو دواړو هیوادونو کې د والګا د لوی کانال د غاړې په ځمکو کې کرنیزو محصولاتو او غذایي صنایعو په تولید کې په ګډون سره، هم خپلې پانګونې څخه ګټه ترلاسه کوو او هم د زراعتی محصولاتو په واردولو سره چې مونږ پخپله د هغوی په تولیدولو کې قزاقستان سره شریک یاستو خپل غذایي امنیت تامینوو. او عملي توګه مجازه اوبه واردوو. که چېرې قزاقستان او ترکمنستان د روسیې او ایران په همکارۍ دغه لویه پروژه عملي کړي دغه دواړه هیوادونه چې د کانال له لارې به د خپلو اوبیزو اړتیاو یوه برخه تامین کړي افغانستان او یا د ترکمنستان له لارې ایران ته د آمو سیند د اوبو انتقالولو په پروژه کې به ډېرې همکارۍ وکړي.

والګا څخه د اوبو لیږدونه کولای شي په دوو طریقو او د دوو موخو لپاره وي:

۱ – په دواړو هیوادونو قزاقستان او ترکمنستان کې د کرهنې په موخه د اوبو لیږدونه او د (ګرګان دشتي) د کرنې اوبو او د ایران د یوې برخې د څښاک اوبو تامینول. پدې صورت کې به اوبه د خپل مسیر په مهمه برخه کې په سر پرانیستي کانال کې جریان ومومي.

۲ - یوازې د څښاک اوبو په موخه له والګا اوبو څخه ګټه ترلاسه کول چې له نل لیکې لارې، باید په یقیني توګه د اوبو د واټن په اوږدوکې پمپاژ شي. خو که اوبو نل لیکې (لولې) د ساحل له څنډو لیرې نشي د ایران تر پولو د اوبو رسیدنه زیاته انرژي نه غواړی. د ایران له سرحده او د اترک رود له کوزنۍ برخې لازمه ده چې اوبه مخ پورته بپول شي او دا کار انرژي غواړي.

**په هر صورت، ایران لپاره ولګا اوبو څخه کار اخیستنه بایده ده د بهرنیو چارو او د انرژۍ وزارتونو په کاردود کې شامله وي.** کم له کمه د هغوی د فني، حقوقي سیاسي او ټولنیزو مطالعاتو کار پیل شي.کله چې یو هیواد غواړي د مازندران تروې اوبه د سمنان شنډو شاړو ځمکو ته راوړي، باید هیواد ته د ولګا د خوږو اوبو د رالیږدوني مطالعات هم ولري.

که څه هم څښاک لپاره د ولګا اوبه ډېرې ککړې دي او د هغوی د چاڼ او سپیڅلي لګښت به خورا لوړ وي. خو بیا هم تکراروم چې اصولي توګه پدې لویو اوبیزو پروژو کې زمونږ پانګونه نباید یوازې ایران ته د هغوی راوړلو رسوني لپاره نه وي. د اوبو په چارو کې او په اوبیزو تاسیساتو کې پانګونه ګټه وره دي. د قزاقستان او ترکمنستان ختیځو ځمکو ته د ولګا د اوبو په لیږدونه کې پانګونه، کیدای شي د کرکیلې په موخه ګټوره وي. د ترکمنستان سهیلی ډیره مهمه برخه د آمودریا له اوبو څخه د قره قوم کانال په مټ تر کرکیلې لاندې نیولی شوې ده. ترکمنستان د آمو دریا د ۲۲ ملیارد متر مکعب اوبو له شتون پرته په بیدیا او بیابان بدلیږي. آیا نشي کیدای د همدې هیواد لویدیزې برخې د والګا په اوبو آبادي کړو.؟. البته فني مطالعاتو ترڅنګ باید چاپیریالیز او ټولنیز حقوقي مطالعات هم ترسره شي. یقیني توګه له هغه ولګا څخه چې کلنی توګه ۲۵۰ ملیارده مترمکعب اوبه مازندران سمندرګي ته وارودي د ۲۰


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او ۳۰ مليارد متر مکعب اوبو ترلاسه کول کولای شي هم د سمندرګي پر مخ او هم د رودخاني په دلتا او هم په هغو سيمو باندې چې تر کرنې لاندې راځي ژوند چاپېرياليزې اغېزې هم ولري. په هر صورت ايران لپاره له والګا اوبو څخه د ۲ تر ۵ مليارد متر مکعب اوبو کارونه بايد زمونږ د ډيپلماسی په دستورالعمل کې ځای ولري.

**پام کې ونيول شي چې مونږ بايد اقتصادي نظره په اوبيزو پروژو کې پانګونه وکړو او د غه پانګونه بايد ګټه جوړوونکي وي. بايد د سرمايې د سود په مټ وکړای شو اوبه ايران ته راوليږدوو نه د پانګې په بدل کې. ساری په توګه د آمو دريا په اوبيزو بريښنايي پروژو کې ګډون وکړو. او د هغوی له ګټې ايران ته اوبه راوليږدوو. په هر صورت ښکاري چې ايران ته د والګا د اوبو راليږدونه به له آمو دريا څخه د اوبو له راليږدونې څخه، څه روسيې سره مذاکرې له مخې او څه هغه هيوادونو سره چې بايد اوبه له هغوی ترانزيت شي او څه فني نظره او څه د اوبو د لګښت له مخې او څه له تولنيز او حقوقي نظره، ډېر اسان وي. پدې سربيره آمو دريا پر تله والګا تهران او د ايران مرکزی ښارونو ته نږدی دَی. شايد د پطر کبير نصيحت کومه ورځ پدې بڼه عملي شي د دې پر ځای چې روسان آزاد سمندر ته (فارس خليج او عمان سمندرګی) ته ورسيږي د والګاه د سيند اوبه او شايد هم د سايبيريا اوبه سهيل کې ګرمو اوبو ته ورسيږي.**

نور بيا

**د اُب سيند حوضي هيوادونو سره ډيپلماسي.**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ